The Asia Foundation

# افغانستان په ۲۰۱۱ کال کې : د افغانستان د وګړو سروې
# هغه پوښتنې چې په مکرر ډول پوښتل کیږي
# د ۱۳۹۰ د لړم څلور ویشتمه (د ۲۰۱۱ د نوامبر پنځلسمه)

**۱. د افغانستان د خلکو د ۲۰۱۱ کال سروې څه شی ده؟**

دا سروې چې د ایشیافونډیشن – افغانستان له خوا طرح، ډیزاین او رهبري شوه، په افغانستان کې تر ټولو پراخه او هراړخیزه عامه نظر پوښتنه ده چې پکښې د هیواد ۶۳۰۰ وګړو په ۳۴ ولایتونو کې د ځواب ورکوونکو په توګه ګډون وکړ.

**۲. دا سروې کومې موضوع ګانې رانغاړي؟**

دا سروې داسې طرح او ډیزاین شوه چې د حکومتوالي او پراختیا اړوندو بیلابیلو اوسنیو مسایلو په هکله د یو زیات شمیر افغانانو نظرونه، چې د ټول ملت له افکارو څخه استازیتوب وکړای شي، راټول کړي. د دغې سروې موخه د حکومت پالیسي جوړوونکو، نړیوالې ټولنې او د افغانستان ټول ملت ته د ډاډ وړ معلوماتو برابرول دي تر څو د پالیسیو په جوړولو او نورو مهمو پریکړو کې ورڅخه ګټه پورته کړي.

**۳. دا سروې په څومره موده کې تر سره کیږي؟**

دا د افغانستان د خلکو اوومه سروې ده چې د ایشیافونډېشن – افغانستان له خوا تر سره کیږي. زموږ تیرې سروې ګانې په ۲۰۰۴، ۲۰۰۶، ۲۰۰۷، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې تر سره شوې. په دې سروې کې هڅه شوې ترڅو د افغانستان د خلکو نظرونه او انګیرنې په یوه ټاکلې موده کې منعکس کړي او هم دغه سروې د هغو بدلونونو او نوښتونو د اندازه کولو لپاره یوه ډاډمنه وسیله ده چې د وخت په تیریدو سره د عامو وګړو په انګیرنو او مفکورو کې را منځ ته شوي دي.

**۴. د دغې سروې رپوټ کومې موضوع ګانې رانغاړي؟**

عمومي وضعیت، روغه جوړه او مجدد ادغام، اقتصاد، پراختیا او خدمتونه، حکومتوالي، اداري فساد، سیاسي ګډون، عدلي–قضایي سیستمونه، ښځې په ټولنه کې او معلوماتو ته لاس رسی د دغې سروې د رپوټ له مهمو موضوع ګانو څخه دي.

**۵. د دغې سروې ساحوي چارې څه وخت تر سره شوې؟**

مخامخ مرکې د ۱۳۹۰ کال د چنګاښ له یوولسمې د زمري تر لسمې نیټې پورې په افغانستان کې تر سره شوې.

**۶. څومره افغانان سروې شول؟**

په دې سروې کې له ۶۳۴۸ افغانانو سره د نابېره انتخاب په توګه د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې مرکې تر سره شوې. ځواب ورکوونکي ۱۸ کلن یا تر هغې لوړ نارینه (۵۷٪) او ښځینه (۴۳٪) ؤ چې ټولو د افغانستان دننه ژوند کاوه. د سروې ځواب ورکوونکي ښاري (۲۲٪) او کلیوالي (۷۸٪) کورنۍ وې. (د ځواب ورکوونکو د شمیر او ټولنیزو– اقتصادي ځانګړتیاوو په اړه تفصیلي معلومات د رپوټ په لومړۍ ضمیمه کې راغلي دي.)

**۷. د سروې پوښتنلیک څو پوښتنې لري؟**

په دې پوښتنلیک کې ۸۸ پوښتنو ته ځای ورکړل شوی ؤ.

**۸ د سروې پوښتنلیک څنګه جوړ شو؟**

د تیرو کلونو د سروې ګانو په شان سږکال هم ایشیافونډیشن د دغې سروې لپاره د معیاري او تخنیکي څیړنو د نورمونو په نظر کې نیولو سره یوه هراړخیزه پروسه طرح کړه. د دغې سروې کړندود (میتودولوژي) په نورو هیوادونو کې چې ایشیافونډېشن پکښې کار کوي یوه

آزمیېل شوې میتودولوژي وه چې په افغانستان کې د ګټې اخیستنې لپاره یو لړ بدلونونه پکښې راوستل شول. په دې سروې کې یو معیاري او د وخت له پلوه د پرتله کیدو د وړتیا درلودونکی پوښتنلیک څخه کار واخیستل شو. په دې پوښتنلیک کې د افغانستان په اړه د پالیسي جوړوونکو، ټولنیزو څېړونکو او بسپنه ورکوونکو مراجعو د اړتیا وړ پوښتنې ځای پرځای شوې وې. دا سروې د علاقې وړ اساسي مسائلو باندې څرخیږي خو په ورته وخت کې داسې چمتو شوې چې له روان وضعیت سره اړخ ولګوي او هم پکښې له یوه مناسب کړندود څخه کار اخیستل شوی ترڅو د اوسنیو شرایطو، محدودیتونو او ننګونو ځواب ووایي. (د سروې د میتودولوژي بشپړه شرح د رپوټ په دویمه ضمیمه کې راغلې ده.)

**۹. د سروې ساحوي چارې چا تر سره کړې؟**

په ټولیزه توګه ۵۸۹ (۲۵۹ نارینه او ۳۳۰ ښځینه) مرکه کوونکي وروزل شول تر څو په ټول افغانستان کې مخامخ مرکې وکړي. ساحوي کار د افغان ټولنیزو– اقتصادي او عامه نظریاتو د څېړنو مرکز (ACSOR) له خوا چې په کابل کې میشت دی او له ۲۰۰۶ کال څخه راپدیخوا د ایشیافونډېشن له ملاتړ څخه برخمن دی، تر سره شو.

هغه ښځې او نارینه چې د مرکو د ترسره کولو لپاره وروزل شول د سیمې له خلکو څخه او د افغانانو د چلند او تجربو د سنجش لپاره یوه ناپیيلې او مستقیمه وسیله وه. ډیری مرکه کوونکي هغه کسان وو چې د تیرو کلونو په سروې ګانو کې یې هم د سروې کوونکو ساحوي ټیمونو غړیتوب درلود. (د سروې د میتودولوژي بشپړه شرحه د رپوټ په دویمه ضمیمه کې راغلې ده.)

**۱۰. د یوې مرکې د تر سره کولو لپاره په اټکلي توګه څومره وخت ته اړتیا ده؟**

هرې مرکې له ۴۵ دقیقو څخه تر ۹۰ دقیقو پورې دوام وکړ.

**۱۱. د تیروتنې حاشیه په دې سروې کې څومره وه؟**

د دغې سروې د نمونه اخیستنې د تیروتنې حاشیه +/- ۴.۱٪ وه.

**۱۲. په دې سروې باندې د امنیتي ستونزو اغیزه څه ډول وه؟**

په ۲۰۱۱ کال کې یو شمیر ولسوالیو د لوژستیکي او امنیتي ستونزو او طبیعي آفاتو په دلایلو د نه لاس رسي له امله له سروې څه پاتې شوې. په پکتیکا او زابل ولایتونو کې امنیتي ستونزو د سروې کوونکو د تګ راتګ آزادي محدوده کړې وه ځکه نو له ښځینه ځواب ورکوونکو سره د مرکو د ترسره کولو لپاره د ښځینه سروې کوونکو له استخدام څخه ډډه وشوه. ددې خبرې مانا دا ده چې له دغو ولایتونو څخه په انتخاب شویو نمونو کې ښځې شاملې نه وې.

په هغو ولایتونو کې چې امنیتي ستونزو شتون درلود، د امنیتي او لوژستیکي خنډونو د لیرې کولو او د داسې نظریاتو د تر لاسه کولو لپاره چې د ټولو خلکو له آراؤ څخه استیازیتوب وکړای شي، په عین ولایت کې د نمونې اخیستنې نورې سیمې وټاکل شوې. سږکال د نمونې اخیستنې ۱۱٪ سیمې د امنیتي دلایلو له امله بدلې شوې چه د ۲۰۱۰ کال د ۱۶٪ په پرتله دغه بدلون ټیټ شوی دی. (د سروې د میتودولوژي بشپړه شرحه د رپوټ په دویمه ضمیمه کې راغلې ده.)

**۱۳. دا سروې د چا له خوا تمویل شوه؟**

دا سروې د ایشیافونډېشن د کار محصول ده چې د امریکا د متحدو ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) له خوا تمویل شوه. دا سروې یو خپلواک او ناپییلی محصول دی چې د لوړو څېړنیزو معیارونو په رعایتولو سره تر سره شوې ده.

**۱۴. ایشیافونډېشن څه ډول مؤسسه ده؟**

ایشیا فونډیشن یو نا دولتی او غیر انتفاعی اداره ده چی د آرامه او سوکاله، پیاوړی، د عدل نه ډکی آسیا او آرام سمندر سیمې منځ ته راوړو ته ژمنه ده. ایشیا فونډیشن په ټوله آسیا کی ۱۸ سیمه ییز دفترونه لری چی سر بیره پر هغو یو دفتر یې په واشنګټن ډی- سی او مرکزي دفتر یې د امریکا په سانفرانسیسکو کې دی، د کومو له لاری چی ایشیا فونډیشن په سیمه ایزه او ملي کچه د پراختیایي چارو پالنه کوي.

**۱۵. ایشیافونډېشن په افغانستان کې څه کارونه کوي؟**

په ۲۰۰۲ کال کې په کابل کې د ایشیافونډېشن د دفتر د بیرته پرانیستلو څخه راپدېخوا دغه بنسټ په دوامداره توګه له افغانانو سره د هیواد په بیارغونې او د پراختیا د بهیر په ګړندیتوب کې مرسته کړې ده. زموږ پروګرامونه د نوي اساسي قانون د تدوین او د رای ورکوونکو په نوم لیکنې، مدني تعلیماتو او د حکومت او رسنیو تر منځ د اړیکو په برخو کې د مرستو په ګډون په حکومتوالی، د قانون حاکمیت او مدني ټولنې ترکیز لري. ایشیافونډېشن د حکومت له مهمو اجرائیوي ارګانونو، پارلماني چارو، کرنې او سیمه ییزې حکومتوالی سره اوږدمهالې او تخنیکي مرستې کوي. زموږ نور پروګرامونه د ښځو په پیاوړې کولو او ښوونې او روزنې تمرکز لري.

**۱۶. ایشیافونډېشن ولې دغه سروې ګانې کوي؟**

ایشیافونډېشن په آسیا کې د پیچلو او تجربي سروې ګانو په ترسره کولو کې چې په هغو کې د افغانستان د عامو خلکو اندیښنې، اړتیاوې او ملاتړ او همداراز د پراختیا بهیر سنجول کیږي او د پالیسی اړوندو مباحثاتو او هم د ایشیافوندیشن د پروګرامونو د طرح، ډیزاین او تعدیل لپاره معلومات راټولیږي، لوړ شهرت لري. ایشیافونډېشن په بنګله دیش، کمبودیا، اندونیزیا، سریلانکا، تایلند، ختیځ تیمور او څو نورو هیوادونو کې سروې ګانې تر سره کړې دي.

**۱۷. ایشیافونډېشن د دغې سروې په اړه څه فکر کوي؟**

د ایشیافونډېشن موخه د پالیسي چارو لپاره د اوسني وضعیت د روښانه کولو په موخه د معتبرو، ګټورو او کره معلوماتو برابرول دي. سروې یوه مهمه وسیله ده چې د عامو خلکو نظرونه سنجوي او ملي رهبرانو، عالمانو، بسپنه ورکوونکو مراجعو او پالیسي جوړوونکو چاروکو ته معلومات راټولوي.

**۱۸. آیا ایشیافونډېشن به سږ کال د دغې سروې څېړنیزه جزوه هم خپره کړي؟**

موږ دمګړۍ د ۲۰۱۱ کال د سروې د موندنو د هراړخیز تفسیر او تحلیل لپاره د دغې سروې په څېړنیزه جزوه باندې کار کوو چې یاده جزوه به د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې خپره شي. د دغې جزوې په لیکلو کې به کورني او بهرني پوهان او پالیسي جوړوونکي ونډه ولري.

**۱۹. د سروې رپوټ له کوم ځایه تر لاسه کولی شم؟**

د دغې سروې بشپړ رپوټ د ایشافونډېشن په انترنتي پاڼه http://www.asiafoundation.org کې پروت دی. د مهمو موندنو لنډیز او مکررې پوښتل شوې پوښتنې په دغې انترنتي پاڼه کې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو موجودې دي.

**۲۰. آیا په راتلونکې کې به نورې سروې ګانې هم تر سره شي؟**

د ۲۰۱۲ کال لپاره هم یوه سروې پلان شوې ده.

**۲۱. د سروې د معلوماتو بشپړه ټولګه تر لاسه کولی شم؟**

مهرباني وکړئ د surveyrelease@ag.asiafound.org بریښنایي پتې له لارې په کابل کې زموږ له دفتر سره اړیکه ونیسئ.

**۲۲. د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره چا سره اړیکه ټینګه کړم؟**

لطفاً د خپلو هغو پوښتنو لپاره چې له رسنیو سره تړاو ونلري د ایشیافونډېشن – افغانستان دفتر سره اړیکه ټینګه کړئ. همدارنګه د رسنیو اړوند پوښتنو لپاره مو له ایمي اووال aovalle@asiafound.org اویا هم ایلین سیم esim@asiafound.org سره مکاتبه وکړئ.